



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!




# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »


د نشرنيته : 6 فبروری 2022 ميلادی


# لونګی لرمه!!!

وويل چا ، چې زه نښتر نه لرم
وويل چا ، چې سمه وغر نه لرم
وويل چا ، چې معدنونه نه شته
وويل چا ، چې طلا ,زر نه لرم
وويل چا ، چې زه اوبه نلرم
وويل چا ، چې پرې خبر نه لرم
وويل چا ، چې زه شاهين نه يمه
وويل چا ، چې زه وزر نه لرم
وويل چا، چې زه قلم نه لرم
وويل چا، شعر هنر نه لرم
وويل چا, چې زه ګودر نه لرم
وويل چا ، چې زه دلبر نه لرم
وويل چا ځمکه اسمان نه لرم
وويل چا شمس قمر نه لرم
وويل چا ، چې مور به يو ځای نه شوو
وويل چا ، چې لر او بر نه لرم
وويل چا ، چې شاه زلمي نه لروو
وويل چا ، چې زه لښکر نه لرم
هرڅه لرمه ای حفيظ مليار‌ه !!
لونګی لرمه ورته سر نه لرم!!!

***

عبدالحفيظ « مليار »


بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org